د افغانستان اسلامي امارت
امارت اسلامي افغانستان

لـــوړو زده کـړو وزارت
وزارت تحصیلات عــــالی

پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه
علمي او محصلانو چارو معاونیت
کرنې پوهنځی
حیواني علومو څانګه

## د حیواني علومو څانګې لرلید، ماموریت، ارزښتونه او ستراتیژیکې موخې

### لرلید

حیواني علومو څانګه به د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د حیواناتو روزنې، تغذیې، نسل اصلاح، حیواني محصولاتو پروسیس او ساتنې په برخه کې د پوهو، ژمن او مسلکي افرادو په روزلو سره د هیواد په کچه سیاله او پرمختللې څانګه وي.

### ماموریت

د حیواني علومو څانګه د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او باکیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.

### ارزښتونه

1. ژمنتیا؛
2. صداقت او ریښتینولي؛
3. له سمتي، نژادي، قومي، لساني او مذهبي تبعیض څخه لریوالی؛
4. مسلکیتوب؛
5. د ځواب ورکوونې توانایي؛
6. اخلاق او کرامت؛

### ستراتیژیکې موخې

د حیواني علومو څانګې عمده ستراتیژیکې موخې په لاندې ډول دي:

1. په اسلامي، ملي او مسلکي روحیه د محصلانو روزل.
2. د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژیو او لوړو وزارت د قوانینو، لوایحو او طرزالعملونو سره سم د حیواني علومو اړوند مسلکي پوهې تر لاسه کول او په ټولنه کې ترویجول.
3. محصلانو ته د حیواناتو د روزنې، حیواني محصولاتو تولید، پروسیس، ذخیره او بازار موندنې په برخو کې کافي معلومات ارایه کول او په ورځني ژوند کې تطبیقول.
4. محصلانو ته د مالداري سکتور په برخه کې د خامو موادو د برابرولو او مالدارانو د ژوند د سطحې لوړولو په برخه کې کافي معلومات ارایه کول.
5. محصلین به د فراغت څخه وروسته د ټولنې په مختلفو برخو او د کار په بازار کې د مسلکي کار او غوره محصول د تولید توانایي ولري.
6. برحال محصلینو ته د پوهې د خپرولو په اړوند سالمه لارښوونه او انګیزه ورکول؛
7. د پوهنځي موخې تعقیبول.

د حیواني علومو څانګې لرلید او ماموریت د څانګې په (۱۳ )ګڼه او ( ۲ / ۱۰ /۱۴۰۳) نیټه غونډه او د پوهنځي د علمي شورې په ( ۱۰ )ګڼه او ( ۲۴ / ۱۰ /۱۴۰۳) نیټه غونډه کې تائید دي.